**د صحي معاینې بلنه**

موږ له نرسې سره ستاسې د صحي معاینې لپاره وخت نیولی دی. د صحي معاینې وخت او ځای لپاره دویمه پاڼه وګورئ. دا چې تاسو د سویډن هیواد ته نوي راغلي یاست نو ځکه مو د صحي معاینې بلنه درکړې ده.

د دې معاینې موخه دا ده چې ستاسو روغتیا وګورو او تاسو سره مرسته وکړو ترڅو وکولی شئ چې یو صحتمند ژوند ولرئ. په دې معاینه کې به ستاسو د صحت په اړه خبرې کیږي او وینه به مو معاینه کوو. دا ضرور نه ده چې په نهاره راشئ. تاسې ته ستاسو په ژبه ترجمان هم ټاکل شوی دی. د ترجمان یو مسئولیت دا هم دی چې ستاسې خبرې راز وساتي.

دا صحي معاینه یو وړاندیز دی او په دې کې برخه اخیستل په بشپړ ډول اختیاري دي. دا نوموړې معاینه وړیا ده او شاوخوا یوه ساعت وخت نیسي. که تاسو چیرې په دې کې تاسو ګډون نشئ کولی یا نه غواړئ ګډون وکړئ، نو مهرباني وکړئ، بل وخت وټاکئ یا مو وخت لغوه کړئ.

د صحي معاینې پایلې په سویډن کې ستاسو د پاتې کېدو پر تصمیم هیڅ اغزه نلري. د مهاجرت ادارې ته د معاینې نتیجه نه ورکول کیږي.

مهرباني وکړئ که چیرې دا ډول اسناد لرئ نو له ځان سره یې راوړئ: لکه د هویت یا پیژندګلو کارډ، د مهاجرت یا ایلیما کارډ ، پاسپورټ یا هم د قبولی کارډ. که چیرته د ښځواني واکسین سندونه لرئ، نو هغه هم له ځان سره راوړئ.

د هغې نرسې نوم چې تاسو به ورسره ګورئ، د ملاقات نېټه او وخت په دویمه پاڼه کې ښودل شوی دی. هلته زمونږه پته او د اړیکو شمېره هم شتون لري.

ښه راغلاست